AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
٢٠٢٣/٠٨/٠۴

# د کوم علم طلب فرض دی؟

اسلام سپیڅلی دین د علم زده کړې ته دومره اهمیت ورکړی، چې د خدای (ج) له خوا، ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) باندې لومړني نازل شوي آیات هم په همدې اړه دي:
.... الذی علم بالقلم. علم الانسان ما لم یعلم.
ترجمه : انسان ته يې په قلم باندې زده کړه وروښوده. انسان ته يې هغه څه ورزده کړل چې انسان پرې نه پوهېده.
همدارنګه حديث شريف دی چې وايي: طلب العلم فريضة على كل مسلم و مسلمة.
يعني د علم حاصلول پر هر نارينه او ښځينه مسلمان باندې فرض دی.
پوښتنه دا ده چې د کوم علم زده کړه پر مسلمانانو فرض دی؟ زموږ ځيني ديني عالمان وايي چې په دې مبارک حديث کې مطلوب يوازې ديني علوم دي. راځئ وګورو چې ديني علوم څه ته وايي. د ديني علومو پيل د قران په تلاوت ، تجويد ، ترجمه او تفسير باندې کېږي ، ورپسې د حديث علم او بيا فقهي مسايل راځي.
ټولو ته معلومه ده چې عظيم الشان قران د حضرت عثمان ( رض ) د خلافت په وخت کې راټول شو. د حديث کتابونه خو تر هغه هم په راوروسته کلونو کې وليکل شول. فقه هم همداسې درواخلئ. ومولیدل چې د يادو شويو علومو کتابونه د حضرت محمد (ص) د رحلت نه پس ترتيب شوي دي.او هغه مفهوم چې نن د ديني علومو په هکله وړاندې کېږي، د هغوی (ص) د حيات په موده کې په دې بڼه موجود نه و. البته نبي کريم ( ص ) به ټل مسلمانانو باندې ټينګار کاوه چې ان که يو ايت او يا يوحديث يې هم زده وي، بايد نورو مسلمينو ته يې ورسوي او هغوی هم پرې خبر کړي.
بله خبره دا ده چې د بدر په غزوه کې اويا تنه مشرکين د مسلمانانو په لاس يرغمل شول. د دغو مشرکينو د خلاصون لپاره درې شرطونه وضع شول:
١. څلور زره درهمه فديه دې ورکړي .
٢. که د يرغمل کورنۍ بې وسه وي نو يوه اندازه وسله دې ورکړي.
٣. که يرغمل با سواده وي نو د فديې له ورکولو معاف دی، يوازې دې د مسلمانانو لسو تنو بچيانو ته سواد وروښيي.
دا هغه وخت و چې مسلمانانو پيسو او وسلو ته ډېره اړتيا لرله. ځکه چې د دوی په وړاندې د قريشو خورا شتمن او په وسلو سمبال پوځ د نورو جنګونه تابيا نيولې وه. خو سره له دې هم حضرت محمد ( ص ) د اسيرانو د خلاصون په شرطونو کې سواد ته د وسلو او پيسو په اندازه اهميت ورکړی. دا د هغوی ( ص ) له خوا زده کړې ته د خورا ډېر ارزښت د قايلېدو معنا لري.
څه فکر کوئ، دغو با سواده مشرکينو به د مسلمانانو اولادونو ته کوم ډول علمونه ورزده کول؟ ديني علوم؟ که نور څه؟
هغوی مسلمانو هلکانو ته يوازې ليک لوست او حساب ورزده کول. هغوی په دين نه پوهېدل. که د پورتني حديث مطلب ديني علوم وای؛ نو رسول اکرم به له کفارو نه غوښتل چې مسلمانو بچو ته تدريس وکړي.
ګومان کوم چې پورته ياد شوي دلايل به د دې خبرې د اثبات لپاره کافي وي چې اسلام د ټولو علومو زده کړه يو شان فرض ګڼي.
ساينس (عصري علوم) بنه دي که بد؟
که زه وپوښتم چې توره بنه شی دی که بد؟ او يا قلم څرنګه شی دی؟ ځواب به مو څه وي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په توره باندې د دښمن سر هم غوڅېږي خو خپل ورور هم پرې وژلی شو. په قلم باندې د خدای کلام هم لیکل کېږي خو سپکې سپورې هم د قلم له څوکې راوتلی شي.
ساینس راته وایي چې اټم کې خورا لوی طاقت دی. موږ له دې طاقت څخه برېښنا هم جوړولی شو چې د خلکو کورونه رڼا کوي او ورڅخه د اټم بم هم جوړولی شو چې ښارونه تباه کوي. نو ساینس وسیله ده. وسیله نه ښه وي نه بده. دا زموږ په استفادې پورې اړه لري چې څنګه کار ترې اخلو.
خدای پاک فرمایي: علم الانسان ما لم یعلم.
یعنې: (( (خدای) انسان ته هغه څه ورزده کړل چې د هغه ( انسان ) نه وو زده.)) دې کې شک نشته چې هر هغه څه چې انسانانو زده کړي، کشف کړي او یا رامنځ ته کړي ( ساینس ) د خدای له خوا ورته ډالۍ شوي دي. نو راځئ چې له ساینس سره خپله دښمني پرېږدو او د یوې وسیلې په توګه یې زده کړو او بیا یې په ښو لارو وکاروو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ